## عامه مصلحت

هغه مصلحت دی چې د جامعې د ټولو وګړو د ګټو لپاره پېژندل شوي وي. درى: [مصلحت عامه]

## عادت شوی مجرم

هغه شخص چې جرم یې ترسره کړی د حبس په جزا محکوم او وروسته د مجازاتو له اجرأ څخه د نورو متعددو جرایمو مرتکب شوی او د حبس د جزا وړ وي.
درى: [مجرم بعادت]

## عادل

هغه دی چې ددو شاهدانو او د یو نفر له خوا په سري توګه د محکمې په وړاندې عادل ثابت شي. درى:[عادل]

## عادل شاهد

هغه شاهد چې د هغه ښېګڼې پر بدیو غالبې وي.
درى:[شاهد عادل]

## عادلانه محاکمه

هغه غیر جانبدرانه او بیطرفه محاکمه ده چې د محاکمې د اصولو سره په مطابقت کې د متهم ټول قانوني حقونه په هغې کې وساتل شي. درى:[محاکمه عادلانه]

## عادي استعمال

د انتفاع په یو عقد کې د شیانو او املاکو هغه ډول استعمالولو ته ویل کیږي چې وګړي په معموله توګه په هم هغه ډول هغه کاروي. درى: [استعمال عادى]

## عادي انتحار

هغه حالت چې شخص د خپل مرګ سبب شي او یا د خپل ځان د وژنې کوشش وکړي. درى: [عادى انتحار]

## عادي پاسپورټ

هغه مشخص رسمي سند یا پاسپورټ دی چې د ځانګړو مقاصدو (سیاحت، کار د مدني معاملو د تصفیې، د خپلوانو لیدلو، او د متبرکو اماکنو زیارت کولو) لپاره د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادریږي. درى:[پاسپورت عادى]

## عادي داین

هغه پور ورکوونکی دی چې د یو شخص پر ذمه باندې یو دیني حق ولري اما د تقدم حق نلري.
درى: [داین عادى]

## عادي دلیل

هغه دلیل دی چې منشأ یې عرف او عادت وي.
درى:[دلیل عادى]

## عادي قانون

هغه قانون دی چې د ملي شورا له خوا چې اساسي قانون د هغه وړاندوینه کړي وي، وضع کیږي.
درى: [قانون عادى]

## عادي محکمې

هغه محکمې دي چې د ټولو هغو عادي او غیر اختصاصي جزایي دعواګانو د قانون له حکمونو سره سم د رسیده ګی صلاحیت تنظیموي. درى: [محاکم عادى]

## عارض

هغه اهلیت لرونکی شخص دی چې د خپل حق غوښتنه په کتبي ډول له اړوندو مراجعو څخه کوي.
درى: [عارض]

## عاریت

هغه عقد دی چې د هغه په موجب د عقد یوه خوا، بلې خوا ته اجازه ورکوي ترڅو دده د مال له عین څخه په وړیا ډول ګټه واخلي، پدې شرط چې له مال څخه ګټه اخیستنه د هغې له بقا سره د امکان وړ وي. درى:[عاریت]

## عاریت اخیستونکی ګرو ورکوونکی

هغه شخص چې د عاریت ورکوونکي تر اجازي وروسته، عاریت اخیستل شوی مال ګرووي.
درى: [عاریت گیرنده رهن دهنده]

## عاقد

هغه شخص چې د عقد يوه خوا ګڼل کېږي که هغه اصيل وي يا وکيل او يا هم فولي عاقد، د عاقد په نوم يادېږي. دری:[عاقد]

## عاقله

د قاتل شخص عصبي اقارب چې د ديت په ورکړه کې بايد ونډه ولري. دری: [عاقله]

## عام اذن

هغه اجازه ده چې د يوې عامه موضوع په باره کې پرته د ټاکلي فرد او يا افرادو په نظر کې نيولو سره منځ ته راځي. دری:[اذن عام]

## عام استوګنځی

هغه استوګنځی دی چې د يو شخص د ټولو اړوندو مدني حقوقو او تعهداتو پورې اړه لري. دری:[اقامتگاه عام]

## عام اقرار

هغه ډول اقرار دی چې شخص په خپله ټوله شتمنی باندې اقرار وکړي. (اقرار ته دې مراجعه وشي). دری: [اقرار عام]

## عام ځړځای

هغه شاړې ځمکې چې د کليو او ښارونو حريم نه وي او ټول خلک کولای شي چې د هغو ځينې د څارويو د څرولو لپاره ګټه واخلي. دری:[علفچر عام]

## عام حجر

د ټولو حقوقي عملونو له انجامولو څخه د واکمنې محکمې په حکم د شخص منع کول دي. (حجر ته دې مخه شي). دری: [حجر عام]

## عام حکمي شخصيت

دولت، ارګان، فرعي ادارې او يا د هغه اړونده څانګې او عامه تاسيسات. دری: [ شخصيت حکمی عام]

## عام سوء نيت

د جرم د مرتکب اراده، اختيار او غوښتنه. دری:[سوء نيت عام]

## عام سهامي شرکت

هغه شرکت دی چې بنسټ ايښودونکي يې د شرکت د پانګې يوه برخه په خلکو باندې د سهمونو د پلورلو له لارې تأمينوي. دری: [شرکت سهامی عام]

## عام ضرر

هغه ضرر دی چې نقص او زيان يې عامه خلکو ته متوجه وي. دری:[ضرر عام]

## عام ضمانت

هغه ضمانت دی چې يو شخص د مديون په غاړه دين د داين لپاره او د مديون نفس حاضرول د داين لپاره ضمانت کړي. دری: [ضمانت عام]

## عام عادت

هغه دودونه او رواجونه دي چې د عا مه وګړو تر مينځ په بېلا بېلو ټولنيزو چا رو کې شا يع وي. دری: [عادت عام]

## عام قايم مقام

هغه قايم مقام دی چې د مورث ټول حقوق، ديون او مکلفيتونه ورته راجع کېږي. دری:[قايم مقام عام]

## عام قصد

د جرمي عمل د ترسره کولو اراده ده. دری:[قصد عام]

## عام لفظ

هغه لفظ دی چې د يوې واحدې معنی لپاره وضع شوی نه وي. دری: [لفظ عام]

## عام نهر
هغه مملوکه نهر چې متفرقه اوبه لري او سر بېره پردې چې د شریکانو په سیمه یا ځمکې کښې مصرفیږي د عامو خلکو د ګټې اخیستلو په منظور هم ترې کار اخیستل کیږي او پدې ډول نهرونو کښې د شفعې حق نه ثبتیږي. دری:[نهر عام]

## عامره ځمکه
د ځمکې هغه قطعه ده چې د ملکیت د اسبابو پر بنسټ مالك کولای شي چې د تصرف صلاحیت په هغه کې ولري. دری:[زمین عامره]

## عامه (قانوني) امانت
هغه تامینات دي چې د مالك له مداخلې پر ته قانون هغه مشروع ګرځولی وي. دری:[ امانت عامه (قانونی)]

## عامه آداب
هغه منل شوي ټولنیز موازین دي چې د هغو رعایت د قانون، عرف او عادات سره سم د یوه حقوقي تعهد د سرته رسولو، او یا نورو ټولنیزو مناسباتو په درشل کې د خلکو په مینځ کې لازم دي. دری: [آداب عامه]

## عامه اراده
د ټولنې د اکثریت اراده ده د یوې معینې موضوع یا معینو موضوعاتو په هکله. (ارادې ته دې مراجعه وشي).
دری: [اراده عام]

## عامه افکار
د ټولنیز عمومي تفکر ټولیزې بڼې ته ویل کیږي.
دری:[افکار عامه]

## عامه امن
هغه حالت دی چې پکې د دولت حقوقي نظام د خلکو حقونه او آزادي، انساني کرامت، جسمي او مالي سلامت ساتل کیږي. دری:[امن عامه]

## عامه انهار
د اوبو هغه ویالې دي چې د یو شخص پورې اړوند نه وي او د عامه وګړو تر استفادې لاندې وي.
دری: [انهار عامه]

## عامه بار
د معین هېواد د نفوسو په شمېر د عامه لګښتونو توزیع کولو ته ویل کیږي. دری:[ بار عامه]

## عامه بیمه
هغه ډول بیمې ته ویل کیږي چې د ټولو خساراتو او له هر ډول خطر څخه رامنځ ته شوی وي او، د بیمې شرط مقابل لوري بیمه کړي پرته له هغو مواردو څخه چې په واضح ډول په قرار داد کې ذکر شوي وي. (بیمی ته دې مراجعه وشي). دری: [بیمه عام]

## عامه پارك
هغه ساحات چې ټاکلی محدوده ولري او د عامه ملکیت یوه برخه وي او د ځانګړو مقاصدو لپاره د قانون له حکمونو سره سم ځانګړې شوې وي. دری:[پارک عامه]

## عامه تفریح ځای
هغه ځای دی چې له رامنځته کولو څخه یې موخه د تفریحي آسانتیاوو رامنځته کول وي او ترې کار اخیستنه د ټولو لپاره میسر وي. دری:[تفریحگاه عامه]

## عامه ځایونه
عبارت له هغو ځایونو څخه دي چې د عامه خدماتو د ترسره کولو په مقصد د قانون له حکمونو سره سم د خلکو د استفادې وړ ګرځي. دری:[محلات عامه]

## عامه ځنګل
عبارت له هغه تثبیت شوې ساحې یا ځای څخه دی چې د ژوندانه د چاپېریال ساتنې په منظور د دولت په تصرف کښې وي او د قانون له حکمونو سره سم د اشخاصو مالکانه تصرف پکښې جواز نلري. دری:[جنگل عامه]

## عامه حقابه

له هغو لښتیو څخه اوبه اخیستل دي چې ټول خلك (عامه خلك) له هغه څخه اوبه اخلي. دری:[حقابه عامه]

## عامه سلطه

پر مختلفو چارو د خلكو قانوني او تعاملاتي واك دی لكه اعیان، املاك او حقوق چې د دولت له خوا د دوی په استازیتوب اعمالیږي. دری: [سلطه عامه]

## عامه شتمني

هغه شتمني چې ټاكلی مالك ونه لري. دری: [مال عام]

## عامه شرعي دفاع

هغه دفاع چې د ټولنې هر وګړې د هغې پربنسټ مكلف دې ترڅو له خپل توان سره، د بدو عملونو او مضره جرمونو مخنیوی وكړي او مانع شي. (مشروع دفاع ته دې مراجعه وشي). دری: [دفاع شرعی عام]

## عامه فینانس

د هغو پیسو تدارك كول دي چې د دولت د اړتیا وړ مخارجو د تأمینولو په منظور وي. دری:[فینانس عامه]

## عامه ګټې

هغه ګټې دي چې عام خلك یې په استفادې كې شریك وي. دری:[منافع عامه]

## عامه لارې

په هغه عامه ملكیت اطلاق كیږي چې د عمومي ګټې لپاره د لارویو د تګ او راتګ په منظور د قانون له حكمونو سره سم جوړیږي. دری:[راه عام (سرک عامه)]

## عامه مالونه

عامه مالونه هغو مالونو ته ویل كیږي چې خاوندان یې ټول وګړي او د خدمتونو متصدي یې دولت وي. دری:[اموال عامه]

## عامه مالي شتمني

عامه شتمني له هغو پیسو یا نورو مالي شتمنیو څخه عبارت ده چې د دولت تر تصرف او كنترول لاندې وي. دری:[دارایی مالی عامه]

## عامه مصلحتونه

هغه مصلحتونه دي چې د ټولنې د ټولو وګړو پورې اړوند وي. دری: [مصالح عامه]

## عامه ملكیت

هغه ساحه چې یوه برخه او یا ټولې برخې یې د ټولو خلكو تر مالكیت لاندې وي او هغه ملكیت د انتقال وړ نه وي. دری:[ملكیت عامه]

## عامه منابع

د تادیاتو هغه مجمع ده چې دولت د هغې په واسطه خپل عایدات او درآمدونه راټولوي. دری:[منابع عامه]

## عامه نظم

ټولنیزه كراري ده چې د قانون د حكمونو مطابق د پولیسو، په واسطه پرځای كیږي. دری:[نظم عامه]

## عامه ویاله

هغه ویاله چې زراعتي ځمكو، كورونو او باغونو ته له لویو ویالو څخه د اوبو د جریان موندلو لپاره د عامه خلكو تر استفادې لاندې وي. دری: [جوی عام]

## عاید

هغه جنس یا مال ته ویل كیږي چې یو شخص یې د كال په اوږدوكې د خپلې شتمنۍ، معلوماتو یا د كار له تجربو څخه تر لاسه كوي او په پیسو د تقویم وړوي. دری:[عاید]

## عایده ضمان

له هغه تاوان څخه عبارت دی چې په یو حقوقی تعهد كې د اهمال له مخی مینځ ته راغلی وي او د هغه وركړه په قانوني توګه مطرح وي. دری: [ضمان عایده]

## عباد دین
هغه دین دی چې په ټاکلي شخص پورې اړوند وي اوله هغه نه یې غوښتنه وشي. دری:[دین عباد]

## عبارت
د شخص د تلفظ په معنی دی. دری: [عبارت]

## عته
هغه کمزوري چې په عقل کې د ګډوډۍ لامل ګرځي.
دری: [عته]

## عدالت
د حق سپارل د هغې خاوند ته عدالت بلل کیږی، چې د هغه په مقابل کې ظلم قرار لري یا په بل عبارت په عمل د حق پلي کېدل کې عدالت دی. دری: [عدالت]

## عدت
هغه موده ده چې د شرعې له مخې د زوجې لپاره یې تر طلاق، مړینې او تفریق وروسته تېرول د بل خـل واده کولو لپاره شرط دی. دری:[عدت]

## عدد پورې مقترن طلاق
هغه طلاق دی چې د معین عدد په ویلو سره د هغه په تلفظ او یا اشارې سره چې هغې ته دلالت وکړی د مېړه له خوا صادر شي.

(طلاق ته دې رجوع وشي) دری: [طلاق مقترن به عدد]

## عدلي پولیس
د پولیسو هغه مؤظفین دي چې د قانون له حکمونو سره سم د جرم د کشف، د دلایلو د راټولولو، د مرتکبینو د تشخیص او د محضر لیکنه پرغاړه لري او خپل ټول اجـراآت د څارنوال تـر نظـر لانـدې ترسره کـوي.
دری: [پولیس عدلی]

## عدلي طب
د جرم د کشف له علمي تګلارو څخه عبارت دی چې د جزائي قوانینو د سمو اجراآتو لپاره د طبي اطلاعاتو په کار اچولو سره سرته رسیږي. دری:[طب عدلی]

## عدلي طبیب
له هغه طبیب څخه عبارت دی چې طبي عدلي معاینات د قانون د حکمونو سره سم سرته رسوي.
دری: [طبیب عدلی]

## عدم د إنقضاء
هغه قانوني پرنسیب چې د هغې په اثر د عقد د یوې لوري د وفات په صورت کې د یو عقد حکم او د مرتبه اثر د څرنګوالي وړاند وینه شوی وي.
دری: [عدم انقضاء]

## عدول
له یو عقد او یا تړون څخه وتل دي. دری: [عدول]

## عرف
هغه مکرره کړنه او روش دی چې د اوږدې مودې په جریان کې د خلکو د باور او ډاډ وړ ګرځېدلي وي او پر معاملاتو کې د هغې نه پیروي کیږي. دری: [عرف]

## عرفي سبب
هغه سبب چې د عرف په اساس د مباشر د فعل موجب کیږي. دری: [سبب عرفی]

## عرفي سند
عبارت له هغه لیکل شوې پاڼی څخه دی چې د دووخواوو له خوا ترتیب او په خپل منځ کې یې مبادله کړي. لکه د رسمي پاڼې په بڼه ځانګړي تشریفات ونلري او یوازې د دواړو خواو توافق، د هغې په منځ ته را تللو کې مؤثر دي. دری:[سند عرفی]

## عروض

هغه شیان دی چې په غیر له نقودو، مځکې، څارویو، موزوناتو او مکیلاتو څخه وی. دری:[عروض]

## عریضه

د یوې طبع شوې او بېې لرونکې پاڼې څخه عبارت ده چې د عارضینو د شکایتونو او غوښتنو د لیکلو لپاره د عامو خلکو په واک کې اېښودل کیږي. دری:[عریضه]

## عریضه لیکونکی

هغه شخص ته ویل کیږی چې د جواز اخیستلو څخه وروسته د قانون له حکمونو سره سم د عارض د شکایت او غوښتنې د لیکلو صلاحیت (واک) ولري.
دری:[عریضه نویس]

## عزل (ګوښه کول)

له دندې یا موقعیت څخه د یو شخص د لېرې کولو څخه عبارت دی چې د قانون یا عقد په اساس هغه ته تفویض شوي وي. دری: [عزل]

## عسکري منسوب

افسران، د قطعې او مکتب واړه ضابطان، د نظامي تعلیمي مؤسسو طلاب، سرتیري او نور هغه اشخاص چې په محاربه کې د مسلحو قواوو مرسته کوي.
دری:[منسوب عسکری]

## عصبه

د میراث د علم په اصطلاح، عصبه هغه چا ته ویل کیږې چې د ذوی الفروو د نشتوالي په حالت کې هغه هم په داسې حال کې چې له میراث څخه محجوب نه وي، د هغوی تر برخې وروسته د پاتې مال مستحق کیږي.
دری:[عصبه]

## عصبه بغیره (د بل په سبب عصبه)

هغه مونث دی چې د فرض خاونده وي او په خپل عصوبت کې بل شخص (عصبه بنفسه) ته اړتیا ولري.

(عصبه بنفسه ته دې رجوع وشي).
دری:[ عصبه بغیره (عصبه به سبب غیر)]

## عفو

د ځینو جرمونو د مجازاتو له پرېښودلو څخه عبارت ده چې د صلاحیت لرونکی مرجع څخه صورت مومي او په دوه ډوله ده یوه عمومي عفو او بله خصوصی عفو.
دری: [عفو]

## عقار

عقار یو ډول غیر منقول اموال دي چې تر تصرف او ګټې اخیستنې لاندې راځي. دری:[عقار]

## عقد

عقد د قانون په دننه کې د دوو ارادو هغه موافقه ده، چې په پایله کې یې یو حق رامنځته، تعدیل، انتقال او یا هم له منځه ځي. دری:[عقد]

## عقل

هغه مدرکه او حاکمه قوه ده چې انسان د واقعیتونو او د افعالو په سرته رسولو کې رهبري کوي. دری: [عقل]

## عقلي استلزامات

هغه څه چې عقل هغه پرته له شرعي دستورونو استنباط کوي. دری: [استلزامات عقلی]

## عقلي مستقلات

هغه څه چې عقل کولای شي په مستقیمه توګه او پرته د شرعې له حکم څخه ئې درک کړي.
دری: [مستقلات عقلی (استقلال عقلی)]

## عقلي ناروغي

هغه ناروغي ده چې په پایله کې یې انسان خپل شعور او سالمه اراده له لاسه ورکوي. دری:[مرض عقلی]

## عقیم

هغه ښځې ته چې د طبیعي او یا غیر طبیعي عواملو له کبله د تولد توان ونه لري او همدارنګه هغه سړي ته چې د جنسي تحرك د لرلو سره یې د طبیعي او یا غیر طبیعي عواملو له کبله د خپلې ښځې د حامله کولو توان ونه لري ویل کیږي. دری: [عقیم]

## عقیم جرم

د جرمي او عمدي عمل له ارتکاب څخه عبارت دی چې د خارجي موانعو د مرتکب د عدم مهارت له کبله بې نتیجې پاتې شوی وي. دری:[جرم عقیم]

## علاتي خور

هغه خور ده چې د شخص سره په پلار کې شراکت ولري. دری:[خواهر علاتی]

## علم

له واقعیت سره سم د جازم اعتقاد دی. دری: [علم]

## علمي بلوغ

د جنسي غړو نهائي رشد. دری: [ بلوغ علمی]

## علمي پولیس

د جرم دکشف او پېژندنې او د مجرمینو د نیولو له علمي او فني تګ لارې څخه عبارت دی.دری:[پولیس علمی]

## علمي موسسې

له هغو دولتي او یا خصوصي، ملي او یا نړیوالو بنسټونو څخه عبارت دي چې د علمي چارو د زده کړې، تحصیل او تحقیق په برخو کې فعالیت کوي.
دری:[مؤسسات علمی]

## علمي یا هنري اثر

هغه شی چې د پوهې یا هنر او یا ابتکار له لیارې منځ ته راشي، پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې له کومې طریقې له بیان، رامنځ ته کېدو او ایجاد پکې استعمال شي. دری: [اثر علمی یا هنری]

## علني مزایده

مزایده د یو شی د ارزښت وړوالی دی په یوه مالی معامله کې په څرګنده توګه. دری: [مزایدهٔ علنی]

## علني تزکیه

هغه تزکیه ده چې د قضایي هیأت په حضور کې او په داسې حال کې چې د دعوې خواوې هم حاضرې وي، ترسره کیږي.

(تذکیي ته دې مراجعه وشي). دری: [تزکیه علنی]

## علني محاکمه

هغه محاکمه ده چې په هغې کې د قضیې رسیدګي په علني توګه صورت نیسي او اشخاص کولای شي په آزاد ډول د محاکمې بهیر تعقیب او ملاحظه کړي.
دری:[محاکمه علنی]

## علني وسایل

هغه تخنیکي طباعتي وسایل چې د خلکو د ذهنونو د آګاهي په منظور د یو شخص یا یوې ډلې د نظریاتو او افکارو د خپرولو او چاپ په منظور تري ګټه واخیستل شي. دری: [وسایل علنی]

## علیا ملکیت

پر یو ملکت باندې د یو حقیقي یا حکمي شخص د ملکیت لرل دي چې د هغه لاندنی طبقه د بل چا پورې مربوطه وي. دری:[ملکیت علیا]

## عمد

د ترسره شوي عمل د نا مشروع والي پر پوهېدو سربېره، د قانون خلاف عمل د ترسره کولو په اړه د مجرم د ارادې تبارز دی. دری:[عمد]

## عمدي جرایم

هغه جرایموته ویل کیږي چې د عمل په ارتکاب او یا امتناع کښې په صریحه او مستقیمه توګه، قصد او یا جرمي قصد څرګندوي. دری:[جرایم عمدی]

## عمدي عمل

هغه عمل دی چې په قصدي او د پوهې له مخې د شخص له خوا صورت ونیسي. دری: [عمل عمدی]

## عمدي قتل

که د فاعل عمل تجاوز وي او د مجنی علیه د وژلو نیت یې هم کړی وي قتل عمدي ګڼل کېږي. (قتل ته دې مراجعه وشي) دری: [قتل عمد]

## عمدي قصور

هغه کوتاهي ده چې د یو تعهد په سرته نه رسولو کې ئې د شخص په قصد او ارادې سره صورت مونډلی وي. دری: [قصور عمدی]

## عمدی حریق

په اشیاوو کې د اور ایښودل د هغو د سوزولو او له مینځه وړلو په موخه. دری: [حریق عمدی]

## عمل

هر هغه کار چه په فکر او قصد، ترسره شي. دری: [عمل]

## عملي شرکت

هغه شرکت دی چې د دوو یا څو حقیقي شخصیتونو ترمنځ رامنځ ته شي او اساسنامه ونلري. دری: [شرکت عملی]

## عملیاتي نګه (خالص) ضرر

هغه مبلغ دی چې د قانون له حکمونو سره سم د مصارفو له مجرائې وروسته، له عایداتو څخه زیات وي. دری:[ضرر خالص عملیاتی]

## عمومت

د کاکا والي وصف چې د میراث په تقسیم کې په عصباتو کې شامل وي. دری: عمومت]

## عمومي اعتصاب

له کار څخه لاس په سر کېدل دي چې د ټولنې ټولو قشرونو یا کارکونکو د یو ټاکلي هدف د لاس ته راوړلو په منظور، عمومي اعتصاب کړی وي. دری: [اعتصاب عمومی]

## عمومي اماکن

هغه اماکن یا ځایونه دي چې هر څوک کولای شي د اړوندو مقرراتو سره سم هغې ته ننوځي او تګ او راتګ وکړي. دری: [اماکن عمومی]

## عمومي بودجه

هغه اسناد چې پکښې د یوې یو کلنې دورې لپاره د دولت د ټاکلیو پلانونو او موخو پر بنسټ په لاس راغلي عواید او اټکل شوي لګښتونه ښودل شوي وي. دری: [ بودجه عمومی]

## عمومي جرمونه

هغه جرمونه دي چې نېغ په نېغه عمومي مصلحتونه تر ګواښ لاندې نیسي. دری:[جرایم عمومی]

## عمومي جزاء

هغه علم چې له عمومی جرمونو څخه بحث کوي. دری: [جزای عمومی]

## عمومي دعوي

د محکمو له خوا د هغه مجرم تعقیب دی چې عمومي اړخ ولري په اتهام د عمومي نظم د ساتنې په موخه. دری:[دعوی عمومی]

**عمومي رأيه**

د خلکو رأيه په يوه موضوع کې. دری: [رأی عمومی]

**عمومي عفت**

هغه معنوي حالت دی چې خلك د هغه صيانت ته علاقه مند وي، د زمان او مکان تابع وي. دری:[عفت عمومی]

**عمومي عفو اثر پر مدني دعوي**

پدې معني چې عمومي عفو هېڅ کومه اغيزه د ثالثو اشخاصو پر حقوقو نلري څکه پر هغو باندی وارده ضرر هر وخت د جبران وړ دي.
دری: [اثر عفو عمومی بر دعوی مدنی]

**عمومي مجامع**

هغه مجامع دي چې کومې خاصې ډلې پورې اختصاص نلري بلکې عام خلك په هغه ځای کې وي.
دری:[مجامع عمومی]

**عمومي مجمع**

عمومي مجمع په يوه جمعيتی ټولنه او يا شرکت کې د تصميم نيونې عالي مرجع ده، چې په عادي او فوق العاده توګه د جمعيت، ټولنې يا شرکت غړي پکې غونډه کوي. دری: [مجمع عمومی]

**عمومي مصادره**

د محکوم عليه د ټول مال اخيستل که هغه نقدي او غير نقدي يا منقول او غير منقول وي. دری: [ مصادرۀ عام]

**عمومي وقايه**

هغه وقايه چې په هغې کې جرم په پام کې نيول کيږي او د نورو د جرم د ارتکاب د مخنيوي په موخه وي.
دری:[وقايه عمومی]

**عمومی عفو**

له هغې عفو څخه عبارت ده چې د قانون په حکم صادريږي، د هغې په اثر دعوی منقضي کيږي او کوم حکم چې د مجرم په محکوميت صادر شوی وي محو کيږي. (عفوی ته دې مراجعه وشي) دری: [عفو عمومی]

**عناق**

د بېګانه يا غير محرمې ښځې په غيږ کې نيول دي.
دری: [عناق]

**عنان شرکت**

هغه شرکت چې شريکان پکې سره داسې موافقه کوي چې په تصرف او پانګه، ګټه او تاوان کې يو له بل سره توپير ولري. دری:[شرکت عنان]

**عندالمطالبه (د غوښتنې وړ) پورونه**

هغه پور چې د قانون له حکمونو سره سم د غوښتنې په موجب پرته د يوې ټاکلې مودې په نظر نيولو کې د تأديې وړ وي. دری: [قرضه های عندالمطالبه]

**عنن**

د مدني حقوقو په اصطلاح کې، عنن په نارينه کې هغه ډول ناروغي ده چې د هغه جنسی قوه تر هغی حده پوری کمزوری کوي چې د جنسی اتصال خنډ ګرځي. دغه ډول ناروغ ته عنين وايي. دری:[عنن]

**عنين**

هغه شخص چې د عنن په ناروغی اخته وي. (عنن ته دې مراجعه وشي). دری: [عنين]

**عودت**

بېرته را ګرځېدلو ته وايي. دری: [عودت]

**عورت**

د انسان د بدن هغه برخی چې پټول يې واجب دی.
دری: [عورت]

**عوضين**

هغه شيان چې په معوضه عقدونو کې يو له بل سره مبادله کيږي. دری: [عوضين]

## عول
له اصلي مسئلې څخه د ذوي الفروضو په برخو کې له زیاتوالي او د نومونړي زیاتوالي په تناسب له ترکې څخه د دوی په برخو کې کموالی دی. دری:[عول]

## عهدي ګټې
له هغې ګټې څخه عبارت ده چې د مالك په توافق له نورو سره ایجادېږي او یا منځ ته راځي.
دری: [منافع عهدی]

## عهدي وصیت
هغه وصیت دی چې وصیت کوونکی معین شخص یا اشخاصوته وصیت کوي چې معین تصرفونه يې د هغه تر مرګ وروسته ترسره کړي. دری: [وصیت عهدی]

## عهدي وکالت
هغه وکالت دی چې د عقد په نتیجه کې منځ ته راځي. (وکالت ته دې مراجعه وشي). دری: [وکالت عهدی]

## عیادتي پاسپورټ
هغه پاسپورټ چې په بهر کې د اوسیدونکی شخص د بلن لیك له مخې د خپلوانو د لیدنې په مقصد د یو دولت د سیاسي او قونسلي نماینده ګیو له خوا په بهر کې تصدیق او د قانون له حکمونو سره سم صادرېږي.
دری:[پاسپورت عیادتی]

## عین
هر هغه څه چې د تصرف او انتفاع وړ وي، عین دی.
دری:[عین]

## عیني بیمه
د عین په اړوند د بیمې د عقد انعقاد دی.
دری:[بیمه عینی]

## عیني امنیتي اقدامات
د ټولنې د دفاع هغه تدبیرونه چې پر څینو اشیاء و چې ممکن د هغو لپاره خطر مینځه راوړي نیول کیږي
دری:[ اقدامات امنیتی عینی]

## عیني تأمینات
هغه پیسی او مصارف دي چې د یو قرار دادي د تعهد په اړه د هغو ورکړه له دواړو خواوو څخه یوه ته لازم وي.
دری: [تأمینات عینی]

## عیني تنفیذ
د هغه عقد د حکمونو له جاري کېدلو څخه عبارت دی چې د عقد د عین موضوع د په نظر کې نیولو سره دواړه خواوې د خپلو تعهداتو د پلي کولو لپاره مکلفې شي.
دری: [تنفیذ عینی]

## عیني جرمونه
هغه جرمونه دي چې کشف او اثبات يې د علمی وسایلو له لارې ممکن وي. دری:[جرایم عینی]

## عیني دعوی
هغه دعوی چې تکیه يې پر یوه عیني حق باندې ده.
دری: [دعوی عینی]

## عیني دین
هغه دین دی چې په عین یا دین په یوه برخه پورې اړوند وي. دری:[ دین عینی]

## عیني ضمانت
هغه حالت دی چې په هغه کې یو عین د ضمانت په توګه تعهد شوی وي. دری: [ضمانت عینی]

## عیني ورور
هغه ورور دی چې له متوفی سره د یو مور او پلاره وي.
دری:[برادر عینی]

## عینی حقوق

عینی حقوق په مستقیمه توګه د شخص تسلط پر عین باندې دي. دری: [حقوق عینی]

## عینی عقد

هغه عقد چې د انعقاد د سرته رسېدو او پر هغه د حقوقي پایلې د اغیزې سنبالول، د معقود علیه عین د تسلیم شرط وي. دری: [عقد عینی]